مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

مصطفی پسرلی

۲۰۲۰/۰۶/۲۸

غزل

بې زحمته لوی آسمان له خدایه غواړو
په خزان کښې سره ګُلان له خدایه غواړو

زور او ظلم مو بدتر دی تر وحشیانو
درجه بیا د انسان له خدایه غواړو

زور لرو خو ترېنه کار اخیستی نشو
اوس یو نوی مېرویس خان له خدایه غواړو

سمه پرېږدو په کږو لارو روان شو
روغ سمون د هر جریان له خدایه غواړو

پسرلیه خپلواکي ساتل هم غواړي
قام دې وایي چې زندان له خدایه غواړو

مصطفی پسرلی
28/06/2020

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ